د امیرِ اهلِسُنّت د کتاب ”550سُنّتیں اور آداب“ یو قسط

# 103 سُنّتونه او آداب

پښتو








د طعام 32 سُنّتونه او آداب 03

د کاروندې په باره کښې 15 سُنّتونه او آداب 10

د صِلهٔ رحمي 13 سُنّتونه او آداب 07

د میلمستیا 30 سُنّتونه او آداب 13



شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# 103 سُنتونه او آداب

**دعائے عطار**: یارَبَّ المُصطفٰی! څوک چې دا رساله "103 سُنتونه او آداب" اولولي یا واوري، د سُنَّت مطابق هغه ته د اعتِکاف کولو توفیق عطا کړې او هغه بے حسابه اوبخښې.

اٰمین بِجاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرما ن مبارك دے: "مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ فِیْ یَوْمٍ اَلْفَ مَرَّۃٍ لَمْ یَمُتْ حَتّٰی یَرٰی مَقْعَدَہٗ مِنَ الْجَنَّۃِ یعني څوك چې په ما باندې په یوه ورځ کښې یو زر ځله دُرُود شریف لولي هغه به تر هٰغه وخته پورې نه مري تر څو چې په جنَّت کښې خپل مقام نه وي لیدلے." (الترغیب و الترہیب، 326/2، حدیث: 2590)

وہ تو نِہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا　　ہم مُفلِس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے

(حدائقِ بخشش، ص 182)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اوبو څښلو 13 سُنتونه او آداب

د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارك دي: **(1)** د اُوبښ په شان صرف په یو ګُوټ [یعني په یوه ساه] اوبه مه څښئ بلکه دوه یا درې ځله (ساه اخلئ او بیا ئې) څښئ او چه

خښتل شروع کوئ نو مخکښې ترې بِسۡمِ الله اولوَلئ او چه کله دخښتلو نه فارغه شئ نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اووائي." (ترمذی،352/3، حديث:1892) **(2)** نبـئ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لوښې کښې د ساه اخستلو يا په هغې کښې د پوکولو نه منع فرمائيلې ده. (ابوداؤد،474/3، حديث:3728) حضرت مفتـي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې حديث پاك لاندې فرمائي: په لوښې کښې ساه اخستل د څناورو کار دے او ساه کله زهرژن وي، په دې وجه د لوښې نه خُله لرې کړئ بيا ساه واخلئ، (يعني د ساه اخستلو په وخت ګلاس د خُلے نه لرې کړئ) تاوده پـئ [يعني شـوده] يا چائے په پوکلو مه څړوئ بلکه لږ حصار شئ، چې لږ يخ شي نو بيا ئې اوخښئ. (مرآة المناجيح،77/6) البته دُرود شريف وغيره لوستل او د شِفا په نِيَّت باندې اوبه دم کولو کښې حرج نشته. **(3)** اوبه وي يا بل يو د خښتلو څيز وي، د خښتلو نه مخکښې بِسۡمِ الله اولولئ **(4)** په چوپلو چوپلو واړه واړه ګوټونه کوئ، په غټو ګوټونو کښې د خښتلو سره د ځيګر بيماري پيداکيږي **(5)** اوبه په درې ساګانو کښې خښئ **(6)** په ناسته او ښي لاس ئې خښئ **(7)** که په لوټه وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې پاتې شوي اوبه خښتل د 70 مرضونو شِفا ده ځکه چه دا د آبِ زم زم شريف سره مشابهت لري، د دې دوو (يعني د اودس نه پاتې شوو اوبو او د آبِ زم زم شريف) نه علاوه نورې اوبه په ولاړه ولاړه خښتل مکروه دي. (فتاویٰ رضويه،575/4، 669/21 ماخوذاً) دا دوه (قِسمه) اوبه مخ په قبله په ولاړه ولاړه خښئ **(8)** د خښتلو نه مخکښې اوګورئ چه د خښتلو په څيز کښې څه نقصان ورکوونکـي څيز وغيره خو نشته. (اتحاف السادة،594/5) **(9)** د خښتلو نه پس اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه اولوَلئ **(10)** حُجَّةُ الاسلام حضرت سَيِّدنا امام ابو حامِد محمد بن محمد بن

محمّد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: بِسۡمِ الله دِ اولولي او خنبل دِ شروع كړي د وړومبۍ ساه په آخره كښې دِ اَلۡحَمۡدُلِلّٰه د دويمې ساه نه پس دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ او د دريمې ساه په آخره كښې دِ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم اولولي. (احیاء العلوم، 8/2) **(11)** په **ګِلاس** [وغيره] كښې پاتې شوې د مسلمان صفا سُتره جُوټه اوبه چه د استعمال قابِلې وي فُضُول تویٔ كول نه دي پكار. **(12)** منقول دي: سُؤۡرُ الۡمُؤۡمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان په جوټه كښې شِفا ده. (الفتاوی الفقهية الكبرٰی لابن حجر الهيتمی، 117/4) **(13)** د خنبلو نه لږ ساعت پس چه خالي ګلاس اوګورئ نو د هغې په ويخ كښې به د ديوالونو نه يو څو څاڅكي اوبه راجمع شوې وي هغه هم اوخنبئ.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د طعام خوړلو 32 سُنتونه او آداب

**(1)** طعام صرف د خوند [لَذّت] د پاره دې اونه خوړے شي بلكه د خوړلو په وخت دا نِيَّت اوكړئ: "د الله پاك په عبادت باندې د طاقت حاصلولو د پاره خورم" **(2)** د لوږې نه لږ خوراك پكار دے او پوره طعام خوړل چې هډو لوږه پاتې نه شي دومره طعام خوړل مباح دي يعني نه ثواب دے او نه ګناه، ځكه چې د دې هم صحيح مقصد كيدے شي چې طاقت به زيات شي. او د لوږې نه زيات خوړل حرام دي. د زيات مطلب دا دے چې دومره خوړل چې د خيټه خرابيدلو ئې غالب ګمان دے، د مثال په توګه دستونه پرې اولګي، طبيعت ئې بےمزه شي. (درمختار، 560/9) دغه شان د

صحت مند کس داسې طعام خوړل ګناه ده چې د هغې نه د بيمارېدو غالِب ګمان وي، دغه شان د مريض داسې بد پرهيزي کول چې د هغې نه ئې د مرض زياتيدو غالب ګمان وي د مثال په طور چې د تجربے نه ثابته وي [چې زيات طعام اوخوري نو تکليف ورته رسي داسې کول حرام دي] **(3)** د لوږې نه کم خوراك کول د بيشميره فائدو مجموعه ده چې تقريباً **80** فيصده بيمارئ په مړه خيټه د خوړلو نه راځي. په دې وجه چې لوږه مو باقي وي نو لاس را غونډ کړئ [يعني نور خوراك مه کوئ] **(4)** په اکثرو دسترخوانونو باندې عبارتونه ليك وي (د مثال په طور شعر يا د کمپنئ وغيره نوم وي) داسې دسترخوانونه استعمالول، په هغې باندې طعام خوړل نه دي پکار. (بهارِ شريعت، 420/3) **(5)** د طعام خوړلو نه مخکښې او وروسته دواړه لاسونه د مړوندونو پورې وينځل سُنَّت دي. (فتاوىٰ هنديه، 337/5) **(6)** فرمان مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: د طعام خوړلو نه مخکښې او وروسته اودس کول (يعني د مړوندونو پورې دواړه لاسونه وينځل) په رزق کښې فراخي راولي او شيطان لرې کوي.(مسند الفردوس، 333/2، حديث: 3501) **(7)** د طعام خوړلو په وخت پيزار اوباسئ چې د دې سره ښپو ته آرام ميلاويږي. فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: کله چې تاسو طعام خوړل شروع کوئ نو پيزار اوباسئ! ځکه چې دا ستاسو د ښپو د پاره دا آرام سبب دے. (معجم اوسط، 256/2، حديث: 3202) **(8)** د خوړلو په وخت ګسه ښپه خملوئ او ښې زنګون اودروئ يا جوخت کښينئ او دواړه زنګونان اودروئ. (بهارِ شريعت، 378/3 ملخصاً) يا د دواړو ښپو په شا باندې د التحيات په انداز کښينئ. (احياء العلوم، 5/2) **(9)** اسلامي ورور يا اسلامي خور چې کله د خوراك د پاره کښيني نو د څادر يا لمَن په ذريعه دې په پرده کښې پرده ضرور کوي

**(10)** د انګوليو يا چټنۍ لوښے په ډوډۍ هيڅ کله مه کېږدئ. (رد المحتار، 562/9)

**(11)** سر تور سر خوړل د آدابو خلاف دي او د دې سره په رزق کښې تنګي راځي.

**(12)** د ګس لاس په ذريعه په زمکه ټيك لګول او خوراك کول مکروه دي. (بهارِشريعت، 377/3) **(13)** د خاورو په لوښي کښې خوړل افضل دي چې څوك په خپل کور کښې د خاورو لوښي جوړوي فرښتې د هغه کور ليدلو له راځي. (ردالمحتار، 566/9)

**(14)** په دسترخوان باندې سبزي ئې نو فرښتې نازليږي. (احياء العلوم، 22/2)

**(15)** د شروع کولو نه مخکښې دې دا دُعا اولوستے شي، که په خوراك يا څښاك کښې زهر هم وي نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الکريم اثر به نه کوي. دُعا دا ده: بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ یَا حَیُّ یَا قَیُّوۡمُ ترجمه: د الله پاك په نوم سره شروع کووم، چه د هغه د نوم په بَرَکت د زمکې او آسمان يو څيز هُم نقصان نه شي رَسَولې، اے هميشه ژوندي او قائم اوسيدو والا. (مسند الفردوس، 282/1، حديث: 1106)[1] **(16)** که په شروع کښې درنه بِسۡمِ اللّٰه لوستل هير شي او د طعام خوړلو په دوران کښې درته ياد شي نو داسې اووائې، "بِسۡمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَ اٰخِرَهٗ." ترجمه: د الله پاك په نوم سره د خوراك شروع او د هغې ختميدل،

**(17)** په اوَّل او آخر کښې مالګه اوخورئ چې دا سُنَّت دي او د دې سره **70** بيمارۍ ختميږي. (ردالمحتار، 562/9) اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مالګين خوراك د مالګې په حکم

---

[1] ... په کومه دُعا کښې چې د "يَاحَيُّ يَاقَيُّوۡم" په ځائے "وَهُوَالسَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡم" دے، د دې دعا فضيلت په "ترمذی" او "ابنِ ماجه" کښې دغه شان دے، فرمانِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: کوم بنده چې سحر ماښام 3 ځله دا کلمات اووائې: "بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ" نو هغه ته يو څيز نُقصان نه شي رسولے. (ترمذی، 250/5، حديث: 3399- ابن ماجه، 284/4، حديث: 3869)

کښېنې اخستے دے.(حياتِ اعلىٰ حضرت، 107/1) **(18)** په ښې لاس خوراك کوئ، په ګڅ لاس خوراك ښکاك كول، اخستل وركول د شيطان طريقه ده. اكثر اسلامي وروڼه نوړئ خو په ښې لاس خوري، خو چې كله د خُلے لاندې ګس لاس نيسي نو ځيني داني په هغې کښې لوېږي او هغه په ګس لاس خُلے ته اچوي، دغه شان په دسترخوان باندې غورزيدلې دانے په ګس لاس سره خوري، هغوئي له پکار دي چې د ګس لاس دانے دې په ښې لاس کښې كيږدي او خُلے ته دې واچوي **(19)** په ګس لاس کښې ډوډئ راخستل او په ښې لاس سره نوړئ ماتول د تكبر ختمولو د پاره دي. (فتاوٰى رضويه، 669/21) يواځې خوراك كولو سره لاس په لوښي د پاسه نيسئ او د ډوډئ او ډبل روټئ ماتولو عادت جوړ كړئ، دغه شان د ډوډئ ذرې په لوښي کښې لويږي ګني په دسترخوان باندې لويدے شي او ضائع كيدے شي **(20)** په دريو ګوتو (يعني غټه ګوته او د كلمې او مينځنئ ګوتې) سره طعام خورئ چې دا د انبياء عَلَيۡهِمُ السَّلام سُنَّت دي. كه د وريژو دانے جدا جدا وي او په دريو ګتو سره نوړئ جوړيدل ممكن نه وي نو څلور يا پينځؤ ګوتو سره خوراك كولے شئ **(21)** نوړئ وړوكې اخلئ او د چپ چپ آواز پيدا نه شي، په دې احتياط سره ئې دومره جووئ چې د خُلے خوراك نرم ميده شي، داسې كولو سره به هضم كوونكې لارې هم ښه شاملې شي. كه په ښه طريقه سره د جوولو نه بغير ئې تير كړئ نو د هضمولو د پاره به معده تكليف اوچتوي او داسې به د قِسما قِسم بيمارو سره مخامخ كيږئ، په دې وجه د غاښونو كار د كولمُو نه مه اخلئ **(22)** د هر دوو نوړو نه پس "يَا وَاجِدُ" لوستلو سره په خيټه کښې نُور پيدا كيږی او بيماري لرې كيږي

**(23)** د طعام فارغيدو نه پس اول مينځئ بيا د کلمې او په آخره کښې غټه ګوته درې درې ځله اوڅټئ. سرکارمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به د طعام خوړلو نه پس ګوتې مبارکې درې ځله څټلې. (شمائل محمديه، ص 96، حديث: 133) (که د درے ځله څټلو نه پس هم په ګوتو پورې د خوراك اثرات پاتې وي نو نور ئې درې ځله اوڅټئ چې د خوراك اثر ختم شي.)

**(24)** لوښے هم اوڅټئ. په حديثِ پاك کښې دي: د خوراك کولو نه پس چې څوك لوښے څټي نو هغه لوښے د هغه د پاره دُعا کوي او وائي: الله پاك دې تا د دوزخ د اور نه آزاد کړي څنګه چې تا زه د شيطان نه آزاد کړم. (جمع الجوامع، 347/1، حديث:2558)او په يو روايت کښې دي چې لوښے د هغه د پاره د بخښنې دُعا کوي. (ابنِ ماجه، 14/4، حديث: 3271)

**(25)** حضرت ابو حامِد اِمام محمد بِن محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوك چې (د خوراك کولو نه پس) لوښے (يا پليټ) اوڅټي او [اوبه پکښې واچوي] وينځي او [هغه اوبه] اوڅښي، هغه ته د يو غلام آزادولو ثواب ميلاويږي. او غورزيدلې ټکړې را اوچتول او خوړل د جنَّت د حورو مهر دے. (إحياء العلوم، 8/2) **(26)** فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دے: کوم کس چې د طعام لويدلې ټکړې را اوچتې کړي او اوخوري ئې، هغه به په فراخئ سره ژوند تيروي او د هغه په اولاد کښې به خير وي. (إحياء العلوم، 8/2)

**(27)** د خوراك کولو نه پس د غاښونو خلال اوکړئ **(28)** د طعام خوړلو نه پس اوَّل آخر دُرُود شريف لوستلو سره دا دُعا اولولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِيْنَ **ترجمه:** د الله پاك شُکر دے چا چې په مونږه طعام اوخوړلو او مونږه ئې مسلمانان ګرځولي يو.

**(29)** که چا در باندې طعام خوړلے وي نو دا دُعا هم اولولئ: اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِیْ **ترجمه:** اے الله پاکه! په هغه باندې اوخورې چا چې په مونږه باندې خوراك

اوکړو او په هغه باندې اوخښې چا چې په مونږه باندې اوخښل. (الحصن الحصین، ص 71)

**(30)** د طعام خوړلو نه پس سُورۀ اِخلاص او سُورۀ قُرَیش اولولئ.(احیاء العلوم، 84/2)

**(31)** د خوراك کولو نه پس لاسونه په صابُن سره ښه اووینځئ او اوچ ئې کړئ.

**(32)** حضرت ابو حامِد اِمام محمد بِن محمد بِن محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکي: د خوراك کولو نه پس اودس (یعني د مړوندونو پورې دواړه لاسونه وینځل) جنون (یعني لیونتوب) لرې کوي. (احیاء العلوم، 84/2)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صلهٔ رَحَمۍ 13 سُنتونه او آداب

**(1)** د الله پاك فرمان دے: ﴿ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیۡ تَسَآءَلُوۡنَ بِهٖ وَ الۡاَرۡحَامَ ﴾

[مفهوم]ترجمۀ کَنزُالایمان: او د الله نه اوویریږئ، د چا په نوم سره چې غواړئ او د خپلولو لحاظ اوساتئ.

د دې آیت مبارکه لاندې په "تفسیرِ مظهري" کښې دي: یعني تاسو د قطعِ رحم (یعني د خپلو خپلوانو سره تعلق ختمولو) نه بچ شئ.(تفسیرِ مظهری، 212/2)

7 فرامینِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **(2)** څوك چې په الله پاك او د قیامت په ورځ ایمان ساتي هغه له پکار دي چې صلۀ رحمي اوکړي. (بخاری، 136/4، حدیث: 6138) **(3)** د قیامت په ورځ به د الله پاك د عرش په سوري کښې درې قسمه خلق وي، (په هغوئي کښې) یو صلۀ رحمي کوونکے دے. (مسند الفردوس، 99/1، حدیث: 2526) **(4)** خپلولي ماتوونکے به جنَّت ته نه ځي. (بخاری، 97/4، حدیث: 5984) **(5)** په خلقو کښې هغه سړے د تولو نه ښه دے کوم چې

ډير زيات قرآنِ کريم لولي، زيات پرهيزګاره وي، د ټولو نه زيات د نيکئ حکم کولو او د بدئ نه منع کولو والا وي او د ټولو نه زيات صلهٔ رحمي (يعني د خپلو خپلوانو سره ښه سلوك) کوونکے وي. (مسند امام احمد، 402/10، حديث: 27504)

**(6)** بےشکه د ټولو نه غوره صدقه هغه ده کومه چې دُښمني پېوونکي خپلوانو باندې اوکړے شي. (مسند امام احمد، 138/9، حديث: 23589) **(7)** په کوم قوم کښې چې قاطعِ رحم (يعني خپلولي ماتوونکے) وي، په هغه (قوم) باندې د الله پاك رحمت نه نازليږي. (الزواجر، 153/2) **(8)** د چا چې دا خوښه وي چې د هغه د پاره (په جنَّت کښې) محل جوړ کړے شي او د هغه درجات اوچت کړے شي، هغه له پکار دي چې څوك په هغه ظُلم اوکړي دا ئې مُعاف کړي او څوك چې دا محرومه کړي دا هغه ته عطا کړي او څوك چې د هغه سره تعلق مات کړي دا د هغه سره تعلق جوړ کړي. (مستدرک، 12/3، حديث: 3215)

**(9)** حضرت فقيه ابوالليث سمر قندي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د صلهٔ رحمئ (يعني د خپلو خپلوانو سره ښه سلوك) کولو 10 فائدے دي: د الله کريم رِضا حاصليږي، د خلقو د خوشحالئ سبب دے، فرښتي پرې خوشحاليږي، د مسلمانانو له طرفه د هغه کس ستائنه کيږي، شيطان ته د ده نه تکليف رسيږي، عمر زياتيږي، په رزق کښې برکت کيږي، وفات شوي پلاران نيکونه (يعني مسلمان پلار نيکه) ترې خوشحاليږي، په خپل مينځ کښې محبت زياتيږي، د وفات نه پس د هغه په ثواب کښې زيات والے کيږی، ځکه چې خلق د هغه په حق کښې دُعائے خير کوي. (تنبيه الغافلين، ص73) **(10)** د بهارِ شريعت جلد3 صفحه 558 نه 560 پورې دي: د صلهٔ رحم معنٰی خپلولي جوړول دي يعني د خپلو خپلوانو سره نيك او ښه سلوك کول. د ټول اُمَّت په دې باندې اِتِّفاق دے چې

صلۀ رحم ”واجب“ ده او قطعِ رحم (يعني خپلولي ماتول) ”حرام“ دي. د کومو خپلوانو سره صلۀ رحمي واجب ده، هغه څوك دي؟ بعضې علماء فرمائي: هغه ذُو رِحم مَحرَم دي او بعضې فرمائي: د دې نه مراد ذُو رِحم دي، مَحرَم وي يا نه وي. او ښکاره هم دغه دويم قُول دے، په احاديثو کښې مُطلقاً (يعني بغير د څه قيد نه) د خپلوانو سره صلۀ (يعني ښه سلوك) کولو حکم راغې، په قرآنِ مجيد کښې مُطلقاً (يعني بغير د قيد نه) ذَوِی القُربٰی (يعني خپلوان) فرمائيلے شوي دي خو دا خبره ضرور ده چې په خپلولۍ کښې مختلف درجے دي، (دغه شان) د صلۀ رحم (يعني د خپلو خپلوانو سره ښه سلوك) په درجو کښې هم فرق دے. د مور و پلار مرتبه د ټولو نه زياته ده، د دې نه پس د ذُو رِحم مَحرَم، (يعني هغه خپلوان د کومو سره چې د نسلي خپلولۍ په وجه نکاح د هميشه د پاره حرام وي) د هغې نه پس باقي خپلوان د مرتبو په قدر، (يعني په خپلولۍ کښې د نزدې والي د ترتيب مطابق) (ردالمحتار، 678/9) **(11)** د صلۀ رحمۍ (يعني د خپلو خپلوانو سره د ښه سلوك) مختلف صورتونه دي، هغوئي ته هديه او ډالۍ ورکول او که هغوئي ته په يوه خبره کښې ستاسو مرسته پکار وي نو په هغه کار کښې د هغوئي مدد کول، هغوئي ته سلام کول، د هغوئي ملاقات له تلل، د هغوئي سره ناسته پاسته، او خبرې اترې کول، د هغوئي سره په نرمۍ او مهربانۍ ملاقات کول (دُرَر، 323/1) **(12)** که دا کس په بهر ملك کښې دے نو خپلوانو ته دې خط اوليږي، د هغوئي سره خط و کتابت دې جاري اوساتي د پاره د دې چې بے تعلقي پيدا نه شي او که ممکن وي چې وطن ته راشي نو د خپلوانو سره دې تعلقات تازه کړي، دغه شان کولو سره به محبت زيات شي. (ردالمحتار، 678/9) (د موبائل فون يا انټرنيټ په ذريعه هم د رابطے ترکيب فائده مند دے) **(13)** صلۀ رحمي (يعني د خپلو خپلوانو سره ښه

سلوك كول) د دې نوم نه دے چې هغه بنه سلوك كوي نو ته هم كوه، دا ځيز خو په حقيقت كښې مكافاة يعني د بدلے بدله ده چې هغه ستا طرف ته څه ځيز اوليږلو نو تا هم هغه ته اوليږلو، هغه ستا كره راغے ته د هغه كره لاړے. په حقيقت كښې صلۀ رحم (يعني د اعلٰى درجے صلۀ رحمي) دا ده چې هغه ئې كټ كړي ته ئې جوړ كړې، هغه ستا نه جدا كيدل غواړي، بے پرواهي كوي او ته د هغه سره د خپلولۍ د حقونو رعايت اوكړې. (ردالمحتار، 678/9)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ګاونډي په باره كښې 15 سُنتونه او آداب

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **8** فرامين مبارك: **(1)** الله پاك د نيك مسلمان په وجه د هغه د ګاونډ د **100** كورونو نه بلاګانے لرې كوي. بيا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آيتِ كريمه تلاوت كړو: ﴿وَ لَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ ۙ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ﴾ (پ2، البقرة: 251) [مفهوم] ترجمۀ كنزالايمان: او كه الله په خلقو كښې بعضې په بعضو سره نه دفع كولے نو خامخا به زمكه تباه شوي وے. (مجمع الزوائد، 299/8، حديث: 13533) **(2)** د الله پاك په نِزد بهترين ګاونډي هغه دے كوم چې د خپل ګاونډي خير خواه وي. (ترمذی، 379/3، حديث: 1951) **(3)** هغه به جنّت ته نه ځي، د چا ګاونډي چې د هغه د آفتونو نه په امن كښې نه وي. (مسلم، ص43، حديث: 46) **(4)** هغه مومِن نه دے څوك چې ځپله په مړه خيټه خوراك اوكړي او د هغه ګاونډي د هغه په خوا كښې اوږے پاتې شي.

(شعب الایمان، 225/3، حدیث: 3389) یعني کامِل مومِن نه دے. **(5)** چا چې خپل ګاونډي ته تکلیف ورکړو، هغه ما ته تکیلف راکړو، او چا چې ما ته تکلیف راکړو، هغه الله پاك ته تکلیف ورکړو. (الترغیب والترہیب، 241/3، حدیث: 13) **(6)** جبریل (عَلَيۡهِالسَّلَام) ما ته د ګاونډي په باره کښې برابر وصیت کولو، تر دې پورې چې زما ګمان شو چې ګاونډي به وارث جوړ کړي. (بخاری، 104/4، حدیث: 6014) **(7)** کوم انسان چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان ساتي، هغه له پکار دي چې هغه د خپل ګاونډي سره ښه سلوك اوکړي. (مسلم، ص44، حدیث: 48) **(8)** څلویښت کورونه په ګاونډ کښې دي. (مراسیل ابی داود، ص16)

حضرت اِمام زُهري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د دې نه څلور طرف ته څلویښت څلویښت کورونه مراد دي. (مراسیل ابی داود، ص16) په "نُزۡهَةُ القاری" کښې دي: ګاونډي څوك دے، دا هر انسان د خپل عُرف او مُعاملے نه پیژندے شي. (نُزهة القاری ، 568/5)

**(9)** حضرت ابوحامِد اِمام محمد بِن محمد غزالي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د ګاونډي د حقونو نه دا هم دي چې هغه ته دې په سلام کولو کښې وړاندې والے کوي، د هغه سره دې اوګږدے خبرې نه کوي، د هغه د حالاتو په باره کښې دې پوښتنه نه کوي، هغه چې بیمار شي نو تپوس دې کوي، د مُصیبت په وخت دې د هغه غمرازي کوي او د هغه مرسته دې کوي، د خوشحالئ په موقع دې ورله مبارکي ورکوي او د هغه سره دې په خوشحالئ کښې شریك کیږي، د هغه خطاګانے دې مُعاف کوي، د چهت نه دې د هغه کور ته نه ګوري، د هغه د کور لار دې نه تنګوي، هغه چې هر څه خپل کور ته وړي د هغې د لیدلو کوشش دې نه کوي، د هغه په عیبونو دې پرده اچوي، که هغه د څه حادثے یا تکیلف ښکار شي نو زر دې د هغه مدد کوي،کله چې هغه په کور

کنبې نه وي نو د هغه د کور د حفاظت نه دې نه غافله کېږي، د هغه خلاف خبره دې نه اوري، او د هغه د کور خلقو ته دې په سپك نظر نه ګوري، د هغه د ماشومانو سره دې نرمې خبرې کوي، هغه ته چې د کوم ديني يا دُنياوي خبرو علم نه وي د هغې په باره کښې دې د هغه رهنمائي کوي. (احياء العلوم، 267266/2 ملخصاً) **(10) حکايت**: د حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْهُ په خدمت کښې يو کس عرض اوکړو: زما ګاوندې ما ته تکليف را رسوي، ما ته کنزلې کوي او په ما سختي کوي. اوئې فرمائيل: که هغه ستاسو په باره کښې د الله پاك نافرماني کړې ده نو ته د هغه په باره کښې د الله پاك تابعداري اوکړه. (احياء العلوم، 267266/2 ملخصاً) **(11) حکايت**: د يو بُزرګ په کور کښې مږې ډېرې زياتې وې، چا عرض اوکړو: حُضُور! که تاسو پيشو اوساتئ نو ښه به وي. اوئې فرمائيل: زه ويريږم چې مږې به د پيشو آواز واوري او د ګاوندې کور ته به لاړې شي، دغه شان زه به د هغه د پاره هغه خبره خوښوونکے شم کومه چې زه ئې خپله نه خوښووم. (احياء العلوم، 267266/2 ملخصاً) **(12)** منقول دي: فقير ګاوندې به په ورځ د قيامت د مالداره ګاوندې لمَن اونيسي او وائي به: اے زما ربه! د ده نه تپوس اوکړه، ده زه د خپل حُسنِ سلوك نه ولے محرومه کړے ووم او په ما باندې ئې خپله دروازه ولے بنده کړې وه؟ (احياء العلوم، 267266/2 ملخصاً) **(13)** يو کس عرض اوکړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! فُلانئ زنانه ټوله شپه عبادت کوي، د ورځې روژه نيسي، ډېره نيکه ده، صدقه او خيرات هم کوي خو په هغې کښې دا خبره هم ده چې هغه په خپلې ژبے سره ګاونډيانو ته تکليف رسوي. خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰى صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: هغه په دوزخ کښې ده. صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د يوے

(دويمې زنانه په باره کښې) عرض اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د فُلانئ زنانه په مقابَله کښې زيات ذِکر کيږي چې د دې (نفل) روژو او لمُونځُونو کښې کمے دے، د پنير ټکړے صدقه کوي او په خپلے ژبے سره ګاونډيانو ته تکليف نه ورکوي. ارشاد ئې اوفرمائيلو: هغه په جنَّت کښې ده. (مسند امام احمد، 441/3، حديث: 9681)

**(14)** فرمانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: ګاونډي درې قسمه دے: د بعضو درې حقه دي د بعضو دوه او د بعضو يو حق دے، کوم ګاونډي چې مسلمان او خپلوان وي، د هغه درې حقه دي، د ګاونډ حق، د اسلام حق او د خپلولئ حق، د مسلمان ګاونډي دوه حقه دي: د ګاونډ حق او د اسلام حق او د کافر ګاونډي صرف يو د ګاونډئ حق دے. (شعب الايمان، 7/ 83، حديث: 9560)

**(15) حکايت**: د حضرت بايزيد بسطامي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو يهودي ګاونډي په سفر تلے وو، د هغه کور والا او ماشومان په کور کښې اوسيدل، د شپې به د يهودي بچي ژړل. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوښتنه اوکړه: بچے ولے ژاړي؟ د يهودي بي بي اووئيل: په کور کښې چراغ [يعني ډيوه] نشته، بچے د تيارے نه ويريږي. د هغه ورځې نه به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هره ورځ ډيوه د تيلو نه ډکوله او بلوه به ئې او د يهودي کور ته به ئې اوليږله. کله چې يهودي بيرته راغے نو د هغې بي بي هغه [خپل خاوند يهودي] ته دا واقعه واوروله. يهودي اووئيل: کوم کور ته چې د بايزيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډيوه راغله هلته دې (د کفر) تياره ولے پاتې شي! هغوئي مسلمانان شو. (مراٰة المناجيح، 573/6)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د میلمستیا 30 سُنتونه او آداب

د نبـي كريم صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **8 فرامين مبارك:** **(1)** خوك چې په الله پاك او په ورځ د آخرت ايمان لري هغه له پكار دي چې د میلمه احترام اوكړي.(بخاری،105/4،حدیث:6018) **مُفسّرِ قرآن،حکیمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد یارخان نعیمي رَحمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د دې حدیثِ پاك لاندې فرمائي: د میلمه احترام دا دے چې د هغه سره په روڼ تندي میلاؤ شي، د هغه د پاره د طعام او د نور خدمتونو انتِظام اوكړي تر دې پورې چې په خپل لاس سره د هغه خدمت اوكړي.(مرآۃالمناجیح، 52/6) **(2)** خوك چې په الله پاك او په ورځ د آخرت ايمان لري هغه له پكار دي چې میلمه ته تكليف ورنكړي. (اکرام الضیف ، ص 25، حدیث: 13) **(3)** كله چې يو میلمه د چا كره ځي نو خپل رزق وړي او چې كله د هغه ځائے نه ځي نو د كوربه د ګناه د بخښنې سبب ګرځي. (کنز العمال،107/9،حدیث:25831) **(4)** چا چې لمُونځ قائم كړو، زكوٰة ئې ادا كړو، حج ئې ادا كړو، د رمضانُ المُبارك روژې اونيولې، د میلمه میلمستیا ئې اوكړه، هغه به جنَّت ته داخل شي. (معجم کبیر، 106/12، حدیث: 12692) **(5)** كوم كس چه د طاقت لرلو باوُجود میلمستیا نه كوي په هغه كښے خير نشته. (مسند امام احمد، 142/6،حدیث:17424) **(6)** د سړي كم عقلي ده چه هغه د خپل میلمه نه خدمت اخلي. (جامع صغیر، ص288، حدیث:4686) **(7)** سُنَّت دا دي چه سړے دِ د میلمه سره د دروازے پورے رخصت كولو له لاړ شي.(ابن ماجه، 52/4، حدیث:3358) **(8)** په كوم كور كښې چې خوراك اوكړے شي په هغې كښې خير و بركت ډير په تيزئ سره راځي د چړې په مقابَله كښې كومه چې د اوښ كوهان [قُب] ته اورسي. (ابن ماجه، 51/4،حدیث:3357)

**د حديثِ پاك شرح:** يعني په كوم كور كښې چې ميلمه، زيارت كوونكي او ملاقات كوونكي طعام خوري هلته بركت وي، ګنې د كور خلق خو په هر كور كښې خوراك كوي. د اوبښ په قُب كښې وازګه وي چې هغه [وازګه] ډير زر كټ كوي او د هغې بيخ ته رسي. (مراٰة المناجيح، 67/6) **(9)** حضرت اُمُّ الْمُؤمِنِين خديجةُ الكُبرٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا فرمائي: خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د خپلو خپلوانو سره بهترين سلوك كوي، د مسافرو ميلمستيا كوي او د حق او انصاف په خاطر د ټولو خلقو په مصيبتونو او مشكلاتو كښې په كار راځي. (سيرتِ مصطفٰی، ص 109 ملخصاً) **(10)** يو كس عرض اوكړو: يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه د يو كس خوا له لاړم، هغه زما ميلمستيا اونكړه، اوس [كه] هغه زما خوا له راشي نو آيا زه د هغه نه بدله واخلم؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: نه، بلكه ته د هغه ميلمستيا اوكړه. (ترمذی، 405/3، حديث: 2013) **(11)** حضرت عطا رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د حضرت ابراهيم خَلِيلُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام د طعام خوړلو وخت به راغے او څوك خوړلو والا به [ورسره] نه وو نو د يو يا دو دو ميلو پورې به د هغه په لټون كښې وتلو چې څوك خوراك كولو والا راسره ميلاؤ شي. (تنبيه الغافلين، ص 249) **(12)** حضرت عِكرَمه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: د حضرت ابراهيم خَلِيلُ الله عَلَیۡہِ السَّلَام لقب "اَبُو الضِّيفان" (يعني غټ ميلمستيا كوونكے) مشهور وو، د هغوئي د كور څلور دروازې وې او هغوئي عَلَیۡہِ السَّلَام به كتل چې په كومه دروازه يو راتلونكے راځي. (تنبيه الغافلين، ص 249) **(13)** د خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خادم حضرت اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: كوم كور ته چې ميلمه نه راځي هلته د رحمت فرښتې نه راځي. (احياء العلوم (اردو)، 43/2، احياء العلوم، 16/2) **(14)** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زمونږه ميلمه هغه دے كوم چې زمونږ د ملاقات د پاره د بهر نه راغلے

وي اګرچې هغه مونږه د مخکښې نه پيژنو يا نه پيژنو، ځوك چې زمونږ د پاره د خپلې محلے يا زمونږ د خپل ښار نه زمونږه ملاقات له راشي دوه ځلور منټو له، هغه ملاقاتي دے ميلمه نه دے. د هغه خيرخواهي (يعني چائے اوبه وغيره پرې) کوئ نو اوکړئ خو د هغه دعوت نشته او کوم نا اشنا کس د خپل کار د پاره زمونږ خوا ته راشي هغه ميلمه نه دے لکه څنګه چې د حاکم يا مفتي خوا ته مقدمے والا يا فتوٰی اخستلو له راځي دا د حاکم (يا مُفتي) ميلمه نه دے. (مراٰۃالمناجیح، 54/6) **(15)** ميلمه له پکار دي چې د خپل کوربه د مصروفياتو او ذِمه واريانو لحاظ اوساتي. **(16)** د بهارِ شريعت جلد**3** په صفحه**391** باندې حديث نمبر**14** دے: کوم کس چې په الله او په ورځ د آخرت ايمان لري، هغه دې د ميلمه اِکرام اوکړي، يوه ورځ شپه د هغه جائزه ده (يعني يوه ورځ دې د هغه پوره خير خواهي اوکړي، د خپل وس مطابق دې د هغه د پاره په اهتمام سره طعام تيار کړي) او ميلمستيا درے ورځې ده (يعني د يوے ورځې نه پس دې اهتمام نه کوي بلکه څه چې حاضر وي پيش دې کړي) او درې ورځو نه پس صدقه ده، د ميلمه د پاره دا حلال نه دي چې د هغه خوا ته دې پاتې شي چې هغه (يعني کوربه) په تکليف کښې اخته کړي. (بخاری، 136/4، حدیث: 6135) **(17)** کله چې تاسو د چا خوا ته د ميلمه په طور ځئ نو مناسب دا دي چې د ښو ښو نيتونو سره د خپل وَس مناسب کوربه يا د هغه د ماشومانو د پاره تحفے يوسئ. **(18)** حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ميلمه له څلور خبرے ضروري دي: (1) چه کوم ځائ ئې کښينوي هلته دِ کښيني، (2) څه چه ئې مخے ته پيش کړے شي په هغے دِ خوشحاله شي، (دا نه چه اووائي: د دے نه ښه خو زه په خپل کور کښے خورم يا داسے قِسمه نورے خبرے)، (3)

د کوربه د اجازت نه بغیر دِ د هغه ځائے نه نه پاسي،(4) چه کله د هغه د خوا نه ځي نو د هغه د پاره دِ دُعا اوکړي.(بهارِ شریعت، 349/3۔فتاویٰ ہندیہ، 344/5) **(19)** د کور یا طعام وغیره په مُعامَلاتو کښے دِ هیڅ قِسمه تنقید نه کوي او نه دِ د دروغو ستائنه کوي، **(20)** کوربه دِ هم میلمه په دروغو وئیلو نه مجبوروي او داسے سوالونه دِ نه کوي مثلاً وئیل: زمونږه کور ښکلے دے؟ زمونږه طعام ښکلے دے؟ ستاسو خوښ شو که نه؟ په داسے موقع که د نه خوښیدلو باوُجود میلمه د عزت ساتلو په وجه د طعام تعریف په دروغه اوکړي نو ګنهګار به وي، **(21)** کوربه دې داسے قِسمه سوال هم نه کوي: تاسو ځان موړ نه کړو؟ دلته په جواب کښے د دروغو اندیښنه ده چه د لږ خوراك کولو یا پرهیز یا بلے مجبورئ په وجه لږ خوړلو باوُجود سَت کولو نه د بچ کیدلو د پاره میلمه وائي چه ما ښه ځان موړ کړے دے. **(22)** بعضې وخت د طعام خوړلو په موقع باندې په میلمه یو کس مقرر کړے کیږي کوم چې په خپل لاس سره د میلمه پلیټ ته طعام یا انګولے، پوټـي وغیره اچوي، میلمه ته د دې نه پریشاني کیدے شي، مَثَلاً هغه د پوټو خوړلو نه ځان بچ کول غواړي او کوربه ورته پوټـي اچوي **(23)** کوربه له پکار دي چه لږ ساعت پس اووائي "نور اوخوره" خو ډیر زیات سَت مه کوئ. چرته د سَت په وجه دومره زیات طعام اونه خورئ چه نقصان در کړي. (فتاویٰ هندیه، 344/5) **(24)** حضرت اِمام ابو حامِد محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ملګرے لږ خوراك کوي نو رغبت ورله ورکړئ او ورته اووائې: اوخوره! خو د دریو ځلو نه زیات دې نه وائي چې دا "اصرار" کول او د حد نه زیاتیدل دي.(احیاءالعلوم، 9/2) **(25)** کوربه له بالکل خاموشه نه دي اوسیدل پکار او دا هم نه دي کول پکار چه طعام کیږدي او غائب شي بلکه

حاضر دِ اوسي.(فتاویٰ هنديه، 345/5) **(26)** د ميلمنو په مخ کښې په نوکر وغيره باندې مه ناراضه کيږئ. (فتاویٰ هنديه، 345/5) **(27)** کوربه له پکار دي چې د ميلمه په خيرخواهۍ کښې ېځپله مشغول شي، د نوکرانو په ذِمَّه دې هغه نه پريږدي چې دا (خيرخواهي) د حضرت ابراهيم خَلِيلُ الله عَلَيْهِ السَّلام سُنَّت دے. (فتاویٰ هنديه، 345/5، بهارِ شريعت، 394/3)

کوم کس چې د خپل مسلمان ورور سره طعام خوري د هغه سره به (په قيامت کښې د دغې طعام) حساب نه کيږي.(قوت القلوب، 306/2) **(28)** حضرت اِمام ابو حامِد محمد بن محمد بِن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم انسان چې لږ خوراك کوي [هغه له پکار دي] چې کله د خلقو سره خوري نو لږ ساعت پس دې طعام خوړل شروع کړي او وړې وړې نوړئ دې اخلي او په قلاره قلاره دې خوري د پاره د دې چې تر آخره پورې د نورو خلقو سره شريك شي. (مرقات، 84/8، تحت الحديث 4254) **(29)** که چا په دې وجه د طعام خوړلو نه زر لاس راښکلو چې د خلقو په زړونو مقام پيدا شي او هغه لږ طعام خوړلو والا اوګڼې نو رياکار او د دوزخ دعذاب حقدار دے. **(30)** که د لوږې نه ئې زياته په دې وجه اوخوړله چې د ميلمه سره ئې خوراك کولو او معلومه ده چې دا [کوربه] لاس راغونډ کړي نو ميلمه به اوشرميږي او په مړه خيټه به خوراك اونکړي نو په دې صورت کښې هم د لږ زيات خوړلو اجازت دے صرف دومره زيات [خوراك] کولے شي چې معده ئې خرابه نه شي. (درمختار، 561/6 ملخصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينہ محلہ سوداگران پراڻي سبزي منڊي ڪراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net